AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

پوهنمل حاجی محمد نوزادی

2009/12/20

# اداری فساد له کومه راغې اوچا دناسور تپ کړ؟

دفساد دغه عربی کلمه په قاموسونوکی د خرابیدلو ، خوسا کیدلو ، بربادیدلو ،له منځه تللو ، ظلم ، ورانکاریو او نورو ورته چارو په معنا راغلې ده چی ټولی معناګانی یی د وګړو پر ژوند ناوړه اغیز ښندی.

فساد دانسانی ټولنی دپاره کومه نوی او تازه اختراع شوي یا کشف شوی پدیده نده . دا ناوړه پدیده د ټولنیز ګډ ژوند له پیل نه د شیطان پر لاس دیوی خورا خوږی دانی په توګه تر انسان یوری را رسیدلې او ورته په دام کی ایښودل شویده.

کله چی ادم بابا پاک خدای په جنت کی را پیداکړ ، تر هغه وخته چی دی یوازی وو او انسانی ټولنیز ژوند لا نه وو پیل شوی ، هرڅه په ښه توګه روان وه . تردی وخته لا په جنت کی ټول ټاکل شوی نورمونه د ادم لخوا په پام کی نیول کیدل . سره ددی چی په خپل منځ کی د وګړو یوځای والی د دښمن په وړاندی ددوی توان او دفاعی وړتیا زیاتوی . خو له بده مرغه دغه یوځای والی او ګډ ژوند دشیطان په وړاندی ددوی دریځ کمزوری کوی ، دمقابلې توان یی کموی او د ورانیدو په لور یی ګامونه چټکوی .

ښایی له همدی کبله وی ، کله چی حوا انا پاک خدای د ادم د ځیګر له کاږه هډوکی ( پښتی ) نه را وزیږول او د ادم سره یی په ګډ ژوند کولو سره دانسانی ټولنی لومړنی خښته کښیښوده ، له همدغی ورځی نه انسانان د شیطان په وړاندی کمزوری او زیان منونکی شول . شیطان ډیر ژر پدی وتوانیدی څو د حوا انا دلاری ادم با با وفساد ته وهڅوی .دوی پدی توګه دټاکل شوو نورمونو او الهی اوامرو څخه سر رغړاونه وکړه او دمنع شوی بوټی د میوی په خوړلو سره یی فساد را منځته کړ . دوی خو خپله جزا ولیده او له جنت نه وشړل شول . شیطان ځمکی ته هم ورسره راغی ، دفساد زړی یی ورسره راوړ او دبدمرغی تخمونه یی ورته وکرل . دځمکی پرمخ هم لومړنی ټولنه ادم دخپلی میرمنی حوا او زیږدلواولادونوسره پیل کړه . دلته دده یو ځوی قابیل را پاڅید او خپل ورور هابیل یی وواژه چی د ورور وژنی فساد ته یی لاره پرانیستل.

پدی توګه موږ وینو چی فساد دبشری ټولنی سره یو ځای منځته راغلې ، ګام ګام ورسره تللې او دحالاتو سره سم یی وده کړی او په بیلابیلو شکلونو کی کله دلته کله هلته راڅرګند کیږی . هیڅ یوه ټولنه هم دفساد په بیخی ډول پاکه نده . په هری ټولنی کی دا کرغیړنه پدیده په یوه یا بل شکل ترسترګو شویده . په ځینو هیوادونو کی دا دښکلې ناوی پشان تر رنګینو شالونو لاندی پټه او ډیر لږ څرګندیږی ، خو دافغانستان غوندی په ځینو غمځپلو ټولنو کی یی بیا دښکاری پشان پر ماشه ګوته ایښی او په لوړ اواز بی پروا ډزی کوی .

کله چی پاک خدای خپلو بنده ګانو ته د ځینو ګناهونو پخاطر جزا ورکوی نو یوه له ډیرو ناوړو جزاګانو څخه یی همدا ده چی ضعیف حاکم وربااندی مقرروی . ددا سی حاکم تر امر لاندی دشیطان غوا لنګه ، فساد ګوته پر ماشه ایږدی ، بی ډاره ډزی کوی او دناتوان قانون کمزوری مټان ورماتوی .

رابه شو خپل هیواد افغانستان ته . دلته هم دتاریخ په اوږدو کی دفساد مور بچیان زیږولي ، کله خو په ماشومتوب لا ورنه مړه شوی اوکله کله یی هم په ناز لوی کړی او دنن پشان یی ترکماله رسولې دی . په هره پیمانه چی د امیرانو مټان قوی وو , په هم هغه پیمانه دفساد غړی تښتیدلې او هر څومره چی دامټان کمزوری شوی نو دفساد اوښان بامونو ته ختلې دی.

په افغانستان کی د ۱۹ پیړۍ کورنۍ اږودوږ دفساد کاروان ته څلور لاری پرانیستې وی . کله چی ددی پیړۍ په وروستیو لسیزو کی دامیر عبدالرحمن اوسپنیزو مټانو دقدرت واګی تر لاسه کړی ، دسرترسری امنیت په ټینګولو سره یی متمرکز او یو موټۍ دولت جوړ کړ ، قانونی نورمونه یی په کارواچول او پدی توګه یی دفساد ټول ډولونه تر لویه بریده زولانه کړه . دی حالت نژدی تر سقاوی اړودوړ پوری دوام وموند او لدی نه یی وروسته بیا غوټۍ ګل کړی .له نیکه مرغه دی کار زیات دوام ونه موند او نادر خان ژر د اړودوړ په ختمولو سره تر دیره حده دفساد په مخنیوۍ هم وتوانیدی . دسردار محمد هاشم دصدارت پرمهال چی دبیرحمانه قاطعیت نه یی کار اخیست ، دفساد ریښوته اوبه بندی شوی . دمحمد ظاهرشاه دسلطنت په وروستیو کلنو د دموکراسۍ په لسیزه کی له شرایطو څخه بده کټه یورته او اداری فساد یو ځل بیا په را ژوندی کیدو شو . سردار محمد داود چی دهاشم خان تراوسپنیز دسپلین لاندی لوی شوی وو ، په ۱۹۷۳ کی یی دقدرت ترلاسه کولو سره سم دنیم ژوندې شوی فساد ښاخونه غوڅ کړه چی د۱۹۷۸ کال تر اوښتون وروسته یی ریښی هم په وجیدو شوی.

د۱۳۵۸ کال دجدی په شیږمه نیټه دسره اردو تر یرغل وروسته دفساد په اړوند بل حالت منځته راغی . ددی پړاو په پیل کی هم فساد درشوت په بڼه په دویم لاس چاروکو کی ډیر زور وا نه خیست ځکه دا یو استخباراتی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیستم وو اودخاد غړی په ټولو ادارو کی فعال وه چی وړو ماموړانو دی کارته زړه ښه کولای نشو ، مگر لوړ پوړو چارواکو ته دمقام څخه دشخصی گټی اخیستلو لاره بیخی خلاصه وه . ددغو چارواکو ترمنځ هم فساد درشوت په شکل زیات چلند ندرلود او داختلاس په شکل هم یوازی دلوموړی لاس چارواکی پری اخته وه . دبیلگی په توگه ویل کیده چی ښاغلی کشتمند د اریانا هوایی شرکت د ( ډی سی ۱۰) الوتکو په رانیولو او بیا بیرته پلورلو کی د روسی سلاکارانو سره په گډه په میلیونونو ډالره جیب ته واچول . ددی کار سره سره بیاهم دنوموړی رژیم په لومړیو کلنو کی رشوت او اختلاس یوه عامه پدیده نه وه . یوازی هغه وخت چی ډاکتر نجیب الله دخپل حاکمیت دوام په خطر کی ولید ، نو یی وخپلو نژدی کړیو ته شین څراغ ولگاوه څو دسبا ورځی خپل غم وخوری . ټاکلو کړیو پدی وخت کی لدغه شنه څراغ نه پوره واخیسته خو تر ډیریو یوری لا دڅراغ روښنایی نه وه رسیدلې چی برق مړشو.

۱۹۹۲ کال راورسیدې . تنظیمی انارشیزم دفساد ټول شکلونه دپاکستانه ورسره راوړه . لدی نه پرته چي په سلگونو کلنو راټوله شوی دولتی شتمنی د غنیمت تر نامه چور شوه ، تویکی زورواکانو همدارنگه دخلگو په شخصی شتمنیو کی هم ازاد واک او اختیارترلاسه کړ . پدی وخت کی نه یوازی داچی د فساد ټولو پخوانی ښکلونو ته وده ورکړل شوه بلکه نور ډیر نوی شکلونه یی هم اختراع کړل ، داځکه چی دټولو کښتنې او پاسنی ارگانو انرژی په بشپړه توگه فقط په همدغه لاره کی په کار لویدله . پدی توگه چاړه نوره د اوولس تر هډوکو ورسیده.

طالبانو چی د روسی لښکرو تروتلو وروسته یی وسله پر ځمکه ایښی وه او دامهال په خپل روتین ژوند لگیا وه، ددی حالت په لیدلو یی یواربیا وسلې ته لاس واچاوه ، دشر اوفساد پرضد یی دجهاد ناره پورته کړه . دشونکو په اند دطالبانو دبریالي پر مختگ یو له ډیرو پیاوړو لاملونو څخه همدغه شعار وو چی نر او ښځو ، لویانو او وړو ورته لبیک ووایه . دوی دهمدغه شعار پر وزرو ډیر ژر د بدخشان لوړو څوکو ته ور څیرمه شول . داوخت دشرعیت توره دومره تیره وه چی نه تنها اداری فساد ته چا زړه ښه کولای نشو بلکه دهر ډول ټولنیز فساد ریښی وچی شوی . رشوت ، اختلاس ، پربنځو او هلکانو جنسی تیری ، غلا ، اختطاف خو لا یوی خواته پرېږده ، ان دسپیانو، کرکانو او زرکو جنگول ، عادی قماربازی او داسی نور هم له منځه ولاړل .

په نیویارک او واشنگټن کی د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر دپیښو پایلی د ب ۵۲ او ف ۱۶ ډوله الوتکو بمباری او دطالبانو د اسلامی امارت راپرزول وو . د تنظیمی انارشیزم ناورین داځل د زخمی مار په بڼه په کلیو او ښارونو راننوت او دټولنیز ژوند په هره برخه کی یی پریمانه زهر وپاشل ، دفساد پر فصل یی بیا اوبه سپری کړی او د اداری فساد په گډون یی دفساد د ټولو ډولونو څانگی ورته گل کړی.

کرزیٔ دبن په کنفرانس کی د لنډ مهاله اولسمشر په توگه وټاکل شو . ده بیچاره خپلی حکومتی چاری په ډیرو کمزورو متانو پیل کړی . قهریه قوه لکه اردو او پولیس موجود نه وه ، هغه داړه ماران چی دبن په کنفرانس کی دهیواد د باغ باغوانان ټاکل شوی وو ، کرزی یی د ادلون بدلون واک ندرلود . امریکایانو او انډیوالانو یی داچی دغه کسان د طالبانو سره په جنگ کی ددوی پرڅنگ دریدلی وو نو دوی یی په غیږکی ونیول او دانغام په توگه یی اختیار ورکړ چی څه یی زړه غواړی هغه دی چور او جیبونه دی پری وپړسوی . پدی توگه دوی بیله ډاره هرڅه ته لاس او خوله اچول ، اداری فساد د امریکا او لویدیز تر وزرو لاندی ددغو کسانو په وجود کی په ناز سره وروزل شو . دفسا د دغه نازولې بچی دخپل ولینعمت تر سیوری لاندی نور د هیچا پروا نه درلوده ، دقانون بندیزونه یی مات او پر ټولنیزو نورمونو یی ناړی تو کړی . دولتی ځمکی یی لاندی کړی ، گمرکونه یی قبضه کړل ، پر کانو یی چپاول راوړ ، دولتی تصدی گانی یی د ازاد بازار دغښتلې کولو په پلمه چور کړی ، اختلاس ته یی رابړی جوالونه کښیښودل او رشوت یی د اداری اجرااتو یو نه شلیدونکیٔ پرنسیپ وگرځاوه . دی کار بیا غلا ، اختطاف ، جنسی تیرویو , تروریزم او نورو ته لاره خلاصه کړه . داچی نوموړو کسانو ته دا اختیارات دبخشش او انعام په توگه ورکول شوی وه ، نو یی د معافیت کلتور منځته را وست . هغه څو تنه وزیران هم چی له پخوا نه ککړ نه وو دفسادی نجاست په خوسا ډنډ کی دوی هم خوسا شول او پدغه لاره کی یی و سیالیو ته پښی لوڅی کړی . په ادارو کی داجرااتو دا شکل د یوه وزیر یا ریئس نه بل ته په میراث پاته کیده . دهر لوړ پوړی چارواکی اصلی موخه داوه چی باید پدغو سیالیو کی لوړ ځای ترلاسه کړی.

نور نو دفساد پرضد مبارزه سخته شوه ځکه چی دامرض اوس د ناسور تپ و گرځیدی او سرطان یی دومره ریښی وځغلولې چی د متاستاز تر پولې یی ځان رسولیٔ دی . امریکا او لودیز چی داگړیٔ د اداری فساد خبره جدی نیولې ده ، ددوی اصلی هدف د ټولنی پاکول نه بلکه د کرزی بدنامول دی . د بیلگی په توگه دوی د مارشال فهیم په وړاندی هغه وخت دجنگسالار او جنایتکار ناری پورته کړی چی کله کرزی هغه د خپل لومړی مرستیال پر ځای نوماند کړ . همدارنگه دوستم چی کله په ترکیی کی عیش او عشرت کاوه ، دوی یی نوم هم پرخوله را نه وړ ، خو چی کله کرزی په ټولټاکنو هغه دځان کړ نو یی د جنایتکار پنامه پښی ور پسی لوڅی کړی . پدی کی هیڅ شک نشته چی د فهیم او دوستم غوندی یوشمیر په وینو ککړ کسان باید د یوی بی پرې محکمی میز ته کښینی . مگر امریکا او لودیز چی هره دوه مخی پالیسی پرمخ بیایی هغه دوی پوه شه او وجدان یی . دلته فساد په رښتنی توگه د افغان اوولس پر اوږو دغم پیټیٔ دومره دروند کړیدی چی نور یی دکشولو توان نلری.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړیٔ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داچی فساد له کومه راغی او چا دناسور تپ کړ ، ددی سوال ځواب په لوړو کرښو کی څرکند دی ، ولی دا څرګندوالۍ اوس زموږ د درد درملنه نشی کولای . دامریکا دا ډول دوه مخی سیاست هم په هیڅ شکل دکرزی مسئولیت نه کموی . دغه فساد پرنورو عواملو برسیره دامنیت پر لاخرابوالي باندی ډیر بد اغیز ښندلی دی . ځکه نو کرزی په هر شکل او په هره بیعه چی وی باید دفساد ریښی وباسی کنه نو ددهده اعتبار او حیثیت به په ملی او نړیواله کچه په صفر کی ضرب او معنوی ژوند به یی اخیر ددی ښامار تر ستونی تیرشی . پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ